جمهوری اسلامی افغــانستان
کمیسیون مستقل انتخــــابات

دافغانستان اسلامی جمهوریت
د ټـــــاکنو خپلواک کمیسیون

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

# دټاکنیزو مبارزو په دوره کې دولسي جرګې د کاندیدانو
# د مالي سرچینو(منابع) داعلان کړنلا ر

دغه کړنلار دټاکنودقانون د(۴۳ )او(۶۶ )مادوپه (۲ )فقرې کې دورکړل شویو واکونوپربنسټ دهغوسرغړونودمخنیوي په موخه چې د ټاکنوقانون په ( ۴۳)مادې کې يې وړاندوینه شوې ، تصویب شوې ده .

**تعریفونه**

**لومړۍ ماده :**

په دغه کړنلار کې وروستي نومونې ( اصطلاحات ) لاندیني مفاهیم افا ده کوي :

۱. کمیسیون: د ټاکنوخپلواک کمیسیون دافغا نستا ن داساسي قانون د ۱۵۶مادې پر بنسټ جوړ شوی دی..
۲. کاندید: هغه شخص چې دولسي جرګې دکاندیدانوپه وروستي (نهايي) لسټ په لړلیک( فهرست) کې شامل وي.
۳. دټاکنیزو مبارزو مرستې: نغدي پیسي ، پور، منقولي اوغیرې منقولي شتمنې ، خدمتونه اواسا نتیاوې چې دټاکنیزو مبارزو لپاره برابریږي په کې شاملې دي .
۴. . د ټاکنیزومبارزو لګښتونه : هر ډول تادیات په کې شامل دي چې د اجناسو ، ملکیتو، شتمنیو ،خدمتونواو اسا نتیاووپه وړاندې چې په ټاکنیزو مبارزو کې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي.
۵ . اشخاص: حقیقي او حکمي اشخاصوته ویل کیږي.
۶ . ټاکنیزې مبارزې: ویناوې ، غونډې، رسانیز پیغا مونه ، او نور ورته فعالیتونه چې دکاندیدانو له خوا درأیي ورکوونکو دجلب اوملا تړ په موخه تر سره کیږي.
۷ . سیاسي ګوند: هغه بنسټ دی چې د عدلې په وزارت کې دیوه سیاسي ګوند په توګه ثبت شوی وي.
۸ . دولتي سر چینې ( منابع ): په دې سرچینو کې مالي وجهې ، مالونه ، سمبلتیاوې،خدمتونه ، اسا نتیاوې ، اماکن اوملکیت ،صرف شوی رسمي وخت شامل دي چې ددولت کارکوونکوله خوا یا هغه اشخاص چې ددولت له خوا ګومارل شوي دي چمتو کیږي.
۹ . دشتمنیوثبت : له هغې فورمې څخه عبارت دی چې د کا ندیدانو منقولي اوغېرې منقولي شتمنی په کې ثبتیږي .
۱۰ . دمرستو اولګښتونو رپوټ : له هغو فورموڅخه عبارت دی چې دکاندیدانو مالي لګښتونه اوتر لاسه شوې مرستې په کې رپوټ ورکول کیږي.

**د کاندیدانو دشتمنیو ثبت**

**دویمه ماده:**

۱. هر کاندید د نامزدۍدفورمې د تسلیمولو پر وخت باید خپلو منقولو اوغېرمنقولو شتمنیو، معلومات په هغو فورمو کې چې دکمېسیون له خوا ځا نګړې شوې دي ولیکي او دکمېسیون په واک دې ورکړي.
۲.د هیواد په د ننه اوبهر کې دکاندیدانود منقولو اوغېر مقولوشتمنیو معلومات چې ددرې سوه زرو( ۳۰۰۰۰۰) افغا نیو په ارزښت او یا زیات وي .
۳ .دکاندیدانو له خوا د هغوی دمنقولو اومنقولوشتمنیو په اړه وړاندې شوي اسناد له کمېسیون سره محرم پاتې کیږي . دغه معلومات یوازې کولای شي دعدلي او قضایي بنسټونو او یا دټاکنیزو شکا یتونو کمېسیون د رسمي غوښتنې په صورت د هغوی په واک کې ورکړي.

**دټاکنيزو مبارزو مرستي**

دريمه ماده:

۱ ـ دکانديدانو د ټاکنيزو مبارزو لپاره لانديني اشخاص کولی شي مرستي وکړي :

الف : دافغا نستان اتباع

ب : سيا سي ګوندونه کورني اوغېر دولتي حکمي شخصيتونه

۲ ـ دياد شويو اشخاصو له خوا کا نديدانو ته دمالي مرستو اندازه دهمدغي مادې په ( ۱) فقرې کې مشروط په لاندينيو محدوديتو دي:

الف : حقيقي شخص تر پنځوزرو ( ۵۰۰۰۰ ) افغانيو پورې

ب : حکمي شخص تر پنځه سوه زرو ( ۵۰۰۰۰۰ ) افغانيو پورې

۳ ـ هيڅ يوه دولتي اداره نه شي کولای چي ديوه ځانګړي کانديد دسياسي مبارزو په اړه مالي مرستي وکړي او يا دولتي منابع دهغوی په واک کې ورکړي ، خو په هغه صورت کې چي شرطونه او اسانتيا وې د ټولو کانديدانو لپاره يو شان او يو ډول په پام کې نيول شوي وي .

۴ ـ هيڅ شخص نه شي کولای چي دټاکنيزومبارزو په موخه له دولتي منابعو څخه ګټه واخلي ، خو په هغه صورت چي دافغا نستان دولت ورته ( مشابه) سرچيني دټولو کا نديدانو په واک کې ورکړي .

**دمرستو اولګښتونوريوټ**

ـ څلورمه ماده :

هر کانديد خپل دمرستو او مالي لګښتونودټاکنيزو مبارزو دوروستۍ اووني په بهير کي په هغوفو رمو کي چي دکمېسيون له خوا ځا نګړي شوي دي ، (۴۸) ساعته مخکي دټاکنو له ورځي څخه دهغه ولايت دکمېسيون دفتر ته چي کانديد په کي نوم ليکنه کړي ده بايد وسپاري .

رپوټ بايد دلاندې معلوماتو لرونکی وي :

۱ ـ معلومات بايد دمالي لګښتونو اوهر ډول نغدي اوجنسي مرستو له مخي چي دټاکنيزو مبارزو دکمېسيون له خوا د چمتو شوې کړنلارې سره سم بايد وړاندې شي.

**درپوټونوخپرول**

پنځمه ماده :

۱ ـ دکمېسيون دعا مه افکارو دپوهاوي په موخه ، هغه رپوټونه چي ددغي کړنلارې دشپږمي مادې پر بنسټ سپارل شوي دي ، د ټا کنود لومړنيو پايلو په اعلان سره خپرېږي .

**سرغړونې**

شپږمه ماده:

هر هغه کا نديد چي د کانديداتورۍ په ورځ د خپل شتمنيو دثبت فورمه تسليم کړي د کانديدو غوښتنليک يې نه منل کېږي .

کا نديدان په ټاکلي وخت کي کمېسيون ته دخپلو مرستو اولګښتونو درپوټ د نه سپارلوپه صورت کي سر غړوونکي پېژندل کېږي.

پداسي حالت کي کمېسيون د سر غړوونکو کانديدانود نومونو لسټ له خپرولو وروسته د ټا کنيزو شکا يتونو کمېسيون ته استوي .

**انفاذ**

اوومه ماده:

دغه کړنلار له تصويب نه وروسته نا فذه او خپرېږي .